# لنډیز

## د ناپوهی اغیزو له کبله د مسئولیتی جزاوی د اسلامی او افغانستان او ایران د حقوقی نظامونو په رڼاکی

ډاکټر خادم حسین حبیبی.

**لنډیز**

دغه څیړنه چې د افغانستان او ایران د اسلامی حقوقو او حقوقی نظام له نظره (په مسوولیتی جزا د ناپوهۍ اغیز) تر سرلیک لاندې لیکل شوی هڅه کوی چې د توصیفی، شننیزی، پرتلیزی او اسنادی کړنلارو له مخې دغه بنسټیزې پوښتنې ته ځواب ومومی چې د افغانستان او ایران د اسلامی حقوقو او حقوقی نظام له مخې د تورن مسوول ګڼلو او یا خو هم نه ګڼلو په برخه کې ناپوهی کومې اغیزې درلودلای شی؟ د مثبت ځواب په شتون کې آیا موارد یې کوم دی؟ په دغه هکله د څیړنې ترسره کول په لومړی ګام کې داسلام له نظره چی د ټولو اسلامی حقوقی نظام بنسټ بلل کیږی د ترسره کوونکی شخص په مسوول ګڼلو او نه ګڼلو کې د ناپوهی درول او اغیزو او دغه ناپوهی د ډول په پیژندلو پورې تړاو لری . د څیړنې له پایلو څرګندیږی چې د ایران حقوقی نظام، په ځانګړې توګه د مجازاتو قانون په بنسټ، په داسې حال کې چې په ژوره توګه د فقهې تر اغیزلاندې ده تر ډیره بریده یې قانون جوړوونکی، د ناپوهۍ اغیزې د مسوولیتی جزا وو په برخه کې ګڼلې دی خو د افغانستان په حقوقی نظام، د جزا کد له مخې په مسوولیتی جزا باندی د ناپوهۍ اغیز د منلو وړندې ګڼل شوی

**کلیدی وییونه:** د ناپوهۍ مسوولیتی جزا، د اسلام حقوقی جزا، دافغانستان حقوقی نظام، د ایران حقوقی نظام.

---

۱* د خاتم النبیین(ص) پوهنتون غزنی څانګې رئیس او د علمی پلاوی غړی

Habibi۱۳۹۳@gmail.com

موندل: ۱۴۰۲ /۱/۲

منل: ۱۴۰۲/۳/۵

# د فقهې او حقوقو له مخې هغه مسوولیتونه چې د ډاکټرانو له کړنو څخه را پیدا کیږی

محمدجواد صمیمی[1]

## لنډیز

د ډاکټرانو اړوند هغو کړو، وړو څیړنه چې د پیښدو په صورت کې یې ډاکټر پړ او ځواب ویونکی او یا خو هم له پړیدلو او ځواب ویلو څخه خلاص ګڼل کیږی، له ستر ارزښت څخه برخمنه موضوع ده او د جزا حقوقو په ډګر کې له بنسټیزو مسایلو څخه ګڼل کیږی، باید وویل شی چې پدې برخه کې دفقهې او حقوقو د لیدلوری له مخې خپلواکې څیړنې او دیا دو سرغړونو له کبله د بیلابیلو جزاګانو پلې کولو مخینه نه تر سترګو کیږی. له همدې کبله د طبی معالجې د زمان په بهیر کې د ډاکټر د کړنو څرنګوالی رابرسیره کول، د کړنې څرنګوالې او د دغه ډول کړنو د پرېښودلو لارې چارې، د ډاکټرانو، حقوق پوهانو او قاضیانو لپاره علمی او کاری رول لری، ځکه د ډاکټر د مسوولیت بنې ټاکل د هغه د کړو، وړو د څرنګوالې په رابرسیره کیدلو او څرګندیدو پوری تړلې له همدې کبله زموږ څیړنیزې مقالې اصلی پوښتنه داده چې دډاکټر دکړنواو تګلارو څرنګوالی اوبڼه څه ډول ده؟ددغې پوښتنې دځواب موند لوپه موخه فقهیانو اوحقوق پو هانولیدلوری ترکتنې او څیړنې لاندې نیول شوی اوله پا یلو یې څرګندیږی چې دډاکټرسلوک اوکړنې بیلابیلې بڼې لری داسې چې کله هم ډیر سخت او ځینې وختونه په نرمه توګه څرګندیږی چې د ډاکټر کړنو دغه دوه لارې د فعل چوکاټ او یا د فعل د پرېښودلو، مباشرت، د اصلی لأمل اویاخو هم مرستیال په بڼه راڅرګندیږی نو ځکه د ډاکټر په وسیله د ناروغ درملنې، له اړتیا سره سم چلند، ځینی وختونه له مړینی سره تړاولری او ځینی وختونه یې نلری. هغه وخت چې د ډاکټر کړه، وړه له مرګ سره تړاو ولری له اړتیا سره سم کړنې ترسره کول ذاتاً یا عادتاً یا نوعاً او یا خو هم نادراً وژونکی دی د داسی تړاونو په هکله کړنې، ځانګړی ډاکټری دود بلل کیږی او په هکله یې حکم هم د خاص دود له مخې ترسره کیږی. له همدې کبله د دې څیړنی لیکونکی د ډاکټری د بیلابیلو کړنو په هکله یوازې د فعل ترسره کولو او نه تر سره کولو له اړخه، پوهې لرلو یا نلرلو، تخصص لرلو یا نلرلو، ته د پام له مخې د حقوق پوهانو، قاضیانو او ډاکټرانو د خبرتیا او پوهی لپاره ترکتنې او څیړنې لاندې نیولی ده.

**کلیدی وییونه:** د ضمانت لاملونه، د ډاکټر د کړنو او تګلارو څرنګوالی، کړل، د کړنو نه تر سره کول، ټولنیز ګډون، لامل، مرسته.

[1]. د جزا او سرغړونو پیژندنې حقوقو ډاکټر او د افغانستان خاتم النبیین پوهنتون استاد . samimijavad۱۳۵۹ @gmail.com

موندل: ۱۴۰۲ /۱/۶ منل: ۱۴۰۲/۳/۱۵

# د افغانستان په حقوقی نظام کې د حقوقي اشخاصو د مسوولیتی جزاوو تر سره کیدو شرایط

حسین داد کامران[۱]


## لنډیز

د حقوقی اشخاصو او دهغوی مسوولیتی سرغړونو جزا د افغانستان په حقوقی نظام کې اوږده تاریخی مخینه نلری او په (۱۳۵۵) ل–ل کې د جزا قانون رامنځته کیدلو او په همدغه کا ل کې دافغانستان مدنی قانون د رامنځته کیدلو له کبله د حقوقی اشخاصو او د هغو د مسوولیتی جزاوو په برخه کې هم پاملرنه تر سره شوې ده. د افغانستان په حقوقی نظام کې دغه اشخاص په دوه ډلو ( عام حقوقی اشخاص لکه شرکتونه، موسسې او دولتی اداري راځی او بله ډله ځانګړی حقوقی وګړی لکه خصوصی شرکتونه ویشل شویدی) پورتنی ډلبندی ته په کتلو سره د دغې لیکنې او څیړنی لیکوال د شنینزی - توصیفی کړنلارې په پلې کولو سره او له کتابتونی سرچینو څخه په ګټه اخیستلو د دې پوښتنې ځواب موندلو ته مټې رانغښتې چې ایا دغه وګړی مسوولیتی جزاکانې لری او کنه ؟ که چیري ځواب مثبت وی، په کومو شرایطو کولای شو دغو اشخاصو ته مسوولیتی جزاورکړل شی؟ هغه څه چې د افغانستان له قوانینو څرګندیږی عام حقوقی اشخاص د مسوولیتی جزا وړندی او یوازې ځانګړی حقوقی اشخاص مسوولیتی جزا لیدلو ته چمتو وی . همدا رنګه دغه وګړی هغه وخت د رامنځته شوو زیانونواو جنایتونو مسوول ګڼل کیږی چې ممثیلین،ریسان، استازی او پلاوی د دندې تر سره کولو په بهیر کې دیادو اشخاصو په نوم او یا خو هم حساب د دې سرغړونو لامل شی.


**کلیدی وییونه:** حقوقی وګړی، مسئولیتی جزا، ممثل، ریس، استازی.

۱. د جزا او جرم پیژندنې ماستر
Hussaindadkamran۷۸۷@gmail.com

موندل: ۱۴۰۲ /۱/۸
منل: ۱۴۰۲/۳/۱۷

# د افغانستان او ایران په حقوقو کې دحقوقي وګړو په وړاندې د عمومی مجازاتو پلې کولو لارې چارې

امیدرستمی غازانی [۱]
قدسیه انوری [۲]

**لنډیز**

په ټولنیزوچارو کې د حقوقي وګړو، ورځ په ورځ ډیریدل د دې لامل شوي چې د مدني او غیر جزایي کړنو ضمانت د دغه ډول وګړو د ژمنې ماتیدلو او بې لارۍ ځواب ویونکی نه وی همدارنګه په مجرمانه پیښو کې د سم سمکی، منځلارۍ او لیږوالې او سرغړوونکو کړنو په وړاندې یې په سرغړوونکو د جزا پلې کول د جزایي حقوقو له موخو څخه ګڼل کیږی په ټولنه کې د غو موخو ته هغه وخت لاسرسی کیدای شي چې له سرغړونو سره مناسبې جزاګانی په قانون کې شتون ولری . له همدې کبله د افغانستان او ایران قانون جوړوونکی د حقوقي وګړو مسوولیتی جزا په منلو سره په خپلو قوانینو کې د حقوقي وګړو په برخه کې د جزاګانو او همدرانګه د هغو د پلې کولو په موخه د ځینو لارو چارو پلې کیدل په ګوته کړی دی د افغانستان او ایران په حقوقو کې په کاری توګه د جزاګانو عمومی لارو چارو په پلې کولو سره د هغو حقوقي وګړو چې په دې څیړنه کې تر غور لاندې نیول شویدی څرګندولای شو د دواړو حقوقي نظامونو مقرراتو له مخې د حقوقي اشخاصو په وړاندې د پوره مجازاتو پلې کول په حقوقي وګړو باندې پلې کیدای شي، خو تبعي جزاګانې په حقوقي وګړو پلی کیدای نشی، د افغانستان د جزا قانون له مخې، په حقوقي وګړو هم دپلی کیدو وړ دی تر څو په دې توګه بشپړې کړنې تر سره شی، په داسې حال کې چې تأمینی کړنی، د قانون له مخې په حقوقي وګړو د باندې د پلې کیدو وړندی. د افغانستان د قانون له مخې په حقوقي وګړو د جزاګانو لیږول د پلې کیدو وړندی، خود ایران په حقوقي نظام کې په حقوقي وګړو باندی د جزا لیږولو کیدون شته . همدارنګه د دواړو هیوادونو قوانینو کې د سر غړوونکی په وړاندې د جزا د لاډیر سختوالی کیدون لری، خو پدې توپیر چې د ایران په حقوقي نظام کې ځانګړی موارد په نښه شوی او منل شوی، د دې جزاګانو د پلې کولو له منځه تلل هم په ځینو مواردو کې لکه:- د قانون نسخ ( له منځه تلل )، بخښنه د حقوقي وګړو په برخه کې د پلې کولو وړ ګڼل شوې خود ځینو نورو لاملونو له کبله لکه د سرغړوونکی توبه کول، چې د اسلامی جزاګانو په قانون کې ورڅخه یادونه شوې، په ځانګړې توګه په حقیقی وګړو پورې تړاو لری او په حقوقي وګړو نه پلې کیږی.

**کلیدی وییونه:** حقوقي وګړی، جزاګانې، د افغانستان جزا کد، د ایران د اسلامی جزا وو قانون.

---

۱. د اهل بیت نړیوال پوهنتون د جزا او جرم پیژندنې مرستیال استاد o.rostamighazani@gmail.com
۲. د ګیلان ـ ایران په پوهنتون کې د جزا او جرم پیژندنې په څانګه کې د دوکتورا زدوکړیال. qudsianoori۳٦٦@gmail.com

موندل: ۱۴۰۲/۱/۱۲ منل: ۱۴۰۲/۳/۱۰

# دافغانستان په حقوقی نظام کې قضایی خپلواکی

محمدمهدی میرزایی[۱]

**لنډیز**

دقضائیه قوې د خپلواکی مفکوره یو تلپاتې حقوقی دو د دی چې د دغه دود او لاربښوونې په بنسټ د زیاترو هیوادونو په بنسټیزو ملي او عادی قوانینو کې بیا، بیا ویل شو یدی چې هر وګړی په برابره توګه د حق خاوند دی چی د عوې ته یې په خپلواکه، بی پرې او څرګنده توګه لاسرسی وشی او د همدغو ځانګړتیاوو لرونکې محکمې د نوموړی وګړی د حقوقو او وجایبو او یا خوهم هر جزایی تور چې په نوموړی شخص لګیدلی وی پریکړه تر سره کړی: دغه اصل د افغانستان په اساسی قانون کې چې په کال ۱۳۸۲ ل–ل کې تصویب شوی، دهغه په (۱۱۶) ماده کې په رسمیت پیژندل شوی او قضائیه قوه د افغانستان اسلامی جمهوری دولت خپلواک رکن ګڼل شوی او د دې مادی مقررات د محاکمو په جوړښت پورې اړوند قوانین، د بیلګې په توګه د (۱۳۹۲) ل ـ ل کال تصویب د ځانګړو محاکمو د جوړښت او واکونو د قانون په (۱۳) ماده او د عسکری محاکمو د جوړښت اوواکونو قانون په (۶) ماده کې (۱۳۸۹) ل ـ ل کال کې تصویب شوی یادونه شویده د پور تنیو مادو له مخې، زیاتره د قضائیه قوی بنسټیزې خپلواکی ته د نورو دولتی بنسټونو په پام کې نیولو سره د قواوو تر منځ ویش ته نغوته شوې او د قاضیانو (فردی) ځانی خپلواکی ته پکې د نغوتی څرک نشته، خوله نیکه مرغه د قضایی چلند (۱۳۸۷) ل – ل کال د (۳) مادې د مقررې چی پکې راغلې (د قاضی خپلواکی او بی پریتوب، د حق بشپړولو او عدالت پلې کولو یوازنی ضامن جوړیدای شی تر څو قاضی په عدالت ولاړه پریکړه تر سره کړی). دغه نیمګړتیا بشپړه او په څرګنده یې د قاضی په شخصی خپلواکی ټینګار کړیدی. د قضائیه قوې خپلواکی او همدارنګه د قاضی ځانی (فردی ) خپلواکی ارزښت او اړتیا ته په پام، زموږ دغه څیړنه د توصیفی او شننیزې کړنلارې په مټ له کتابتونی سرچینو څخه، هڅه کوی چې د افغانستان اساسی او عادی قوانینو په رڼا کې د قضایی خپلواکی مهم او بنسټیز ټکی راوسپړی.

**کلیدی وییونه:** قضایی خپلواکی، بی پرې محکمه، خپلواکه محکمه، قضایی مصوونیت.

۱. د جزا او جرم پیژندنې څانګې ماستر
mahdidi۲۰۱۹@gmail.com

موندل: ۱۴۰۲/۱/۲۱
منل: ۱۴۰۲/۳/۲۰

# د افغانستان او ایران په حقوقو کی بریښنایی تیرایستلو او غلاوو سرغړونو پلی کیدوته کتنه

محمد نعیم حیدری[۱]

**لنډیز**

د دې مقالې د لیکلو موخه د بریښنایی تیرایستلو د سرغړونې جوړوونکو عناصرو څیړنه او د دواړو (افغانستان او ایران ) د جزایی حقوقو په نظام کې یې د پلې کیدلو چارو څرنګوالی دی. مقاله د موخې له پلوه د دغو جزائی حقوقو په پلې کیدو او تګلارې له پلوه یې د پیژندلو په شنلو او سپړلو راڅرخیږی چې له کتابتونی سرچینو څخه د ګټې اخیستلو په بنسټ راټول شوی دی. بریښنایی تیرایستنې او غلاوې هغه سرغړونه ده چی د بریښنایی وسایلو په مرسته تر سره کیږی . د افغانستان او ایران هیوادونو قانون جوړوونکی د بریښنایی وسایلو غلاوی او تیرایستنی خپلو قوانینو کې سرغړونه ګڼلې او دغه چاره یې د مجازی فضا او بریښنایی وسایلو په مټ د تیر ایستلو په وړاندې د ولسونو حساسیت او کرکې لامل کیږی .پدې مقاله کې دبریښنایی وسایلو اوتوکودسوداګرئ قانون تعزیراتو برخې(۶۷)(۷۴۱)مادو اودافغانستان دجزا کد د(۸۵۹)مادې په بنسټ تر کتنې اوڅیړنې لاندې نیول شویدی اودهغوپایله هم داده چې هغه چلندونه چې دافغانستان اوایران هیوادونو دقانون جوړوونکولخوا رامنځته شوی یوبل ته ورته والی لری همدارنګه یوشمیر هغه چلندونه چې دافغانستان قانون جوړوونکودجزاکدپه پورتنئ ماده کې ورڅخه وړاندوینه شوې لکه کمپیوتری سیستم ته لاسرسی کمپیوتری بر نامې او خبرونه....) چې دایران قانون جوړوونکو داسلامی مجازاتو په قانون کې ندی راوستلی اونه خویی ورڅخه یادونه کړیده.

**کلیدی وییونه:** کمپیوتری درغلی، افغانستان، ایران، د جزا کد، د اسلامی قوانینو له مخی مجازات.

---

۱. د اهل بیت نړیوال پوهنتون د جزا او جر م پیژندې په څانګه کې د زده کړو خاوند naimhiadary۲۰۱۵@gmail.com

موندل: ۱٤۰۲/۱/۲۵ منل: ۱٤۰۲/۳/۲۸

# د افغانستان او ایران په جزایي حقوقو کې د اسکناس جعل کارونې ته کتنه

وحیدالله حمیدی[۱]

## لنډیز

که څه هم د اسکناس شتون د ټولنې په اقتصادي پیاوړتیا او ژوندانه کچې لوړالی او بسیاینه کې ستر رول لري، باید له یاده ونه باسو چې جعلي او بې ملاتړه اسکناس نه د پیسو ارزښت دکموالی، او د بېلابېلو توکو او چوپړونو د نرخ د ډېروالي لامل کېږي، د اسکناس جعل یو له هغو سرغړونو څخه ګڼل کېږي چې دهري اسانتیاوو په وړاندې درېدل دي او سیخامخ د ولس هوساینه په نښه کوي او د دغې سرغړونې له کبله ولسونه له سترو تاوانونو سره لاس او ګریوان کېږي، تر دې چې د هیوادونو پولي او بانکي نظام او پکې میشت ولس یې هم له تاوانه خوندي نه وي له دې کبله ددغه اکرشتون داسکناس په اړه دټول ولس دباوردمنځه تللولامل کیږي پدې توګه بایدداقتصادي پولي اوبانکي نظام دساتلو او په هغه کې دګډوډیو درامنځته کیدوپه برخه کې بشپړه پاملرنه وشي او د اسکناس په اړوند د ولس باورخوندي شي . همدارنګه د جعلي اسکناسونو د رامنځته کیدو په دودکې اسانتیا او چټکتیا، په لنډه موده کې ټولنه او ډېر وګړي له سترو زیانونو سره مخامخ کوي . د اسکناس جعل په افغانستان او ایران کې د دواړو هیوادونو قوانیو او هغو توپیرونو چې مادي برخه او هغو مجازاتو ته چې د دغه ډول سرغړونو په غبرګون کې ترسره کیږي، په پام کې نیولو سره تر څېړنې او شننې لاندې راتللای شي. پدې برخه کې یو توپیرهم دادی چې په افغانستان کې جعل د ستری سرغړونې په توګه ګڼل شوی خو د ایران په حقوقو کې یې بنه توپیر لری د دغه ډول سرغړونو له امله د یوه هیواد هوساینې ته، په تیره بیا داچې په لوړه کچه شتون ولری څرګند ناوړه اغیز لری. د اسکناس جعل له ډیرو خطرناکو سرغړونو څخه ګڼل کیږي چې د اسکناس په اړوند دولس باور له منځه وړی او دهغو د راکړې، ورکړې چارې له ستونزو سره مخامخ کوی له همدې کبله چې د اسکناس جعل سرغړونې په ټوله کې د اقتصادي نظام په سمون کې ګډوډی رامنځته کوی اویا خو هم بانکي او پولي تاوان رسوی، باید د دغه ډول سرغړونو تر سره کوونکو سره پریکنده او سخت چلند وشي. یو هم له هغو دلایلو څخه چې د زیاتره هیوادونو، په تیره بیا افغانستان او ایران قانون جوړونکوو د دې سرغړونې په وړاندې ډېر سخت قانوني غبرګون په پام کې نیولی همداموضوع ده . کومه څېړنه چې پدی مقاله کې ترسره شوې د افغانستان او ایران د قوانیو د قوت او کمزورۍ په ټکو او همدارنګه په دواړو هیوادونو کې د شته قوانینو تر منځ په توپیرونو څرخیږي .

**کلیدي وییونه:** جعل، پیسې، دود شوی داسکناس جعل، په بانکي او پولي نظام کې ګډوډی، اقتصادي سرغړونې.

۱. د جزا او جرم پېژندنې څانګې ماستر
wahid.۱۹hamidi@gmail.com

مونډل: ۱۴۰۲/۱/۱۹
منل: ۱۴۰۲/۳/۲۳